MINISTRY OF SOCIAL DEVELOPMENT
TE MANATŪ WHAKAHIATO ORA

# د ټولنيز پيوستون په باب خپل نظريات شريک کړئ

## ځنګه کولی شي خپل نظر شریک کړي

### حکومت غواړي له تاسو واوري

حکومت غواړي چې د ټولنيز پيوستون د پياوړې کولو لپاره د شاهي کميسيون د غوښتنو په اړه د بيلابيلو ډلو او په کار د بوختو کسانو نظرونه ترلاسه کړي. ستاسو نظرونه او وړانديزونه به د حکومت په وروستيو پرېکړو کې ځای ولري. [د نورو وړانديزونو د عملي کيدو په اړه د شويو کارونو په باب مالومات له دی ځايه ترلاسه کيدای شي.]

### کولی شی خپل وړانديزونه د ۲۰۲۱ کال د جون مياشتي له ۲۵ څخه د اکتوبر ۳۱ مه ۲۰۲۱ شريک کړئ

د وړانديزونو د شريکولو لړۍ د ۲۰۲۱ کال د جون مياشتي په ۲۵ پيليږي او د همدې کال د اکتوبر ۳۱ مه ۲۰۲۱ پای ته رسيږي.

### تاسو کولی شئ خپل وړانديز په انلاين او يا ليکلي بڼه شريک کړئ

تاسو کولی شئ خپل وړانديز د MSD وبسايټ له لارې شريک کړئ. دا سايټ له تاسو سره مرسته کوي چې خپل نظر په اسانه توګه موږ ته وسپارئ.

دغه راز تاسو کولی شئ خپل نظر د دغه ايميل آدرسsocialcohesion@msd.govt.nz له لارې موږ ته وليږئ.

دغه راز موږ په ليکلي بڼه دټولنيزپرمختګوزارتته ستاسو د وړانديزونو هرکلی کوو
.PO Box 1556, Wellington 6140

مهمه! تاسو اړ نه ياست ټولو هغو پوښتنو ته چې موږ کړي ځواب ووايئ. تاسو کولی شئ هغه پوښتني انتخاب کړئ چې تاسو ته مهمي ښکاري.

### ستاسو د معلوماتو محرميت

کوم مالومات چې تاسو MSDته ورکوئ، دا مالومات به د ټولنيز پيوستون د ټينګولو لپاره د حکومت د خبرولو په موخه وکارول شي. د موضوعاتو په اړه به ستاسو ځواب وځيرل شي، په يو راپور کې به ضميمه شي او له نورو حکومتي ادارو سره به شريک کړل شي. MSDبه هم د دغه راپور يوه کاپي په خپل وبسايټ کې خپره کړي. دا دواړه کارونه به په داسي يو طريقه ترسره شي چې له امله يې ستاسو پيژندګلوي/ هويت افشا نشي.

د عدليې وزارت او د بهرنيو چارو اداره هم د شاهي کميسيون د څيرنو پايلو د وړانديزونو د تطبيق په برخه کې کار کوي. که چيرې MSDمطمئنه شي چې ستاسو له لوري کوم ورکړل شوی ځواب د دغو ادارو له کار

سره اړه لري او دوی کولی شي ستاسو ورکړل شوی ځواب په سمه توګه تحلیل کړي، نو لطفاً تاسو دې خبر یاست چې ستاسو ځواب د دغو ادارو سره شریکیږي. هر هغه مالومات چې MSDله دغو ادارو سره شریکوي، دوی ته به په کاملاً امنه توګه انتقال شي. که چیرې نه غواړئ چې ستاسو مالومات له دوی سره شریک کړل شي، نو لطفاً موږ ته وواياست.

ټول هغه مالومات چې تاسو يې MSDته په واک کې ورکوئ، دا مالومات به د ۲۰۲۰ کال د محرمیت قانون سره سم راټول، خوندي او خپاره شي. تاسو دا حق لرئ چې ټولو هغو مالوماتو ته چې MSDستاسو په اړه په خپل واک کې لري، لاسرسی ولري او سم يې کړي.

لطفاً په یاد ولرئ چې د ۱۹۸۲ کال د رسمي مالوماتو د قانون په بنسټ، ستاسو ځوابونه کیدای شي د MSDد غوښتنې په صورت کې نوموړې اداري ته د مالوماتو په هدف ورکړل شي. مهرباني وکړئ په خپلو ځوابونو کې هغه مالومات مه ورکوئ چې ستاسو او یا د کوم بل چا هویت په کې څرګندیږي. مهرباني وکړئ دا هم په یاد ولرئ کله چې تاسو خپل ځواب وړاندې کوئ نو MSDبه ستاسو د IP پته د معلوماتي ټیکنالوژۍ پیښو کشف او ځواب ورکولو لپاره ثبت کړي.

## په بل ژبه کې ځواب ورکول

دا سروې په څو ژبو کې شتون لري ، پشمول د ته ریو مائوری او نوي زیلینډ د اشارو ژبه (NZSL). تاسو کولای شي چې د خپل د انتخاب په ژبه کې ځواب سپارنه وکړئ.

MSDبه ستاسو ځواب د یوه مسلکي ژباړونکي لخوا انګلیسي ته د ژباړلو لپاره ترجمه کړي ترڅو MSDيې تحلیل کړي. ژباړونکی به ستاسو اصلي ځواب او انګلیسي نسخه دواړه MSDته واستوي او بیا به دا معلومات د دوی سیستم څخه حذف کړي. ستاسو معلومات به د MSDاو ژباړونکي ترمینځ په خوندي ډول لیږدول کیږي او د ژباړونکي لخوا په مناسب ډول او د محرمیت قانون ۲۰۲۰ سره سم اداره کیږي.

# راتلونکي ګامونه

د سپارښتنو یو غورچاڼ به دلته موجود وي: [www.msd.govt.nz](http://www.msd.govt.nz)

[تاسو کولی شی د دی کار او د شاهي کمیسیون د سپارښتنو په اړه لا ډیر معلومات دلته ترلاسه کړئ.]()

# شالید او محتوا

د کرایست چرچ پر جوماتونو د برید په تړاو د شاهي کمیسیون د څېړنو د پایلو راپور د ۲۰۲۰ میلادي کال د ډسمبر په میاشت کې خپور شو. حکومت په اصولو کې د ټولنيز پیوستون د پراختیا او د نیوزیلند مخ په پراخیدونکي تنوع په باب د راپور له ټولو وړاندیزونو سره هوکړه وکړه.[د RCOI راپور او د ټولنيز پیوستون وړاندیزونه ولولئ.]

له هغه ځایه چې د شاهي کمیسیون راپور خپور شوی وو، په ټولنیزو چارو کې ښکیلتیا د حکومت لپاره تر ټولو لوی لومړیتوب و. د راپور له خپریدو سره سم وزیر له زیانمنو کسانو او د برید څخه له ژوندي پاتې شویو کسانو سره وکتل. د ۲۰۲۱ کال په جنوري او فبروري میاشتو کې وزیرانو بیا له مسلمانانو، له نورو مذهبي ډلو او نژادي ټولنو سره ۳۳ غونډې وکړې. دغو ټولنو د توکم پالنې او تبعیض په ګډون د نیوزیلند له اوتیروا ټولنيز پیوستون سره تړلي ګڼ مسایل مطرح کړل او د اوږد مهال لپاره د ټولنيز پیوستون د ټینګولو په باب پر کار کولو یې خبرې وکړې، ترڅو د ټولنيز تغییر لپاره ټولې ټولنې سره یوځای کړي. [د نظریاتو ټولنو لنډیز ولولئ چې په hui کې چمتو شوي دلته موندلی شيء.]

ټولنيز پیوستون هر چا ته د دې وړتیا وربښل دي ترڅو زموږ عامه اداري خپل وبولي، ګډون په کې وکړي او باور پرې پیدا کړي. شاهي کمیسیون وپتیله، چې که څه هم په دې برخه کې ګڼ فعالیتونه لري، خو کوم هدفمنده او پراخه ستراتیژي او د عمل پلان نشته څو وښيي چې حکومت غواړي څه ترلاسه کړي، څه کارونه شوي او د پرمختګ لارې کومې دي. دا یې هم په ډاګه کړې چې په دې برخه کې د ټولنو، مدني ټولنې، سیمه ییز حکومت، او خصوصي سکتور نظریات له پامه غورځول شوي.

حکومت د ۲۰۱۹ کال له نیمایي د ۲۰۲۰ کال ترپایه د شواهدو راټولولو، د پخوانیو ترسره شویو کارونو د پایلو سنجولو او د محسوسو پایلو د ارزولو په ګډون، ځیني کارونه کړي. اوس چې حکومت د ټولنيز پیوستون وړاندیزونه عملي کوي، موږ غواړو چې له تاسو یې واورو. موږ له تاسو غواړو چې راته ووایئ تاسو ته څه مهم دي. ستاسو نظریات به له موږ سره مرسته وکړي چې د اوتیروا یوي ځانګړې بڼې ته وده ورکړو. دا چې ټولنیزه پیوستون موږ ته په څه معنی ده، د یو ملت په توګه موږ اړتیا لرو چې ځواکمني ټولنې جوړې کړو او د ستراتیژیکي طرحي یو چوکاټ رامنځته کړو او د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو او د پرمختګ د ارزولو لپاره د ارزونې یو نظم رامنځته کړو.

## موږ د خپل ځان په اړه وواياست

د ټولنیز پرمختک وزارت غواړي ډاډ ترلاسه کړي چې دا مشورتي پروسه په اوتیروا کې د بیلابیلو ډلو سره یو هدف لرونکی تعامل دی. دا معلومات به موږ سره مرسته وکړي چې د تعامل کولو محدوده او چوکاټ درک کړو، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې موږ ټولو خلکو او ټولنو ته رسیدو چې د دې کار په اړه پاملرنه کوي.

**جندر** (مهرباني وکړئ مشخص کړئ)

**عمر**

☐ د ۱۸ لاندې

☐ د ۱۹ – ۳۹ ترمنځ

☐ د ۴۰-۶۴ ترمنځ

☐ له ۶۵ څخه ډیر

**قوم** (تاسو کولی شئ څو ځوابونه وټاکئ)

☐ اروپایی

☐ مائوری

☐ د پیسفک خلک

☐ اسیایی

☐ د منځني ختیځ

☐ د لاتین امریکا

☐ افریقایی

مهرباني وکړئ نوري قومونو وټاکئ

**سیمه**

☐ نورتلند

☐ آکلند

☐ وایکاتو

☐ تاراناکی، کینگ کنتری، و هانگانوی

☐ د پلنتی خلیج

☐ مرکزي

☐ ختیځ ساحل

☐ ویلینګټن

☐ نلسون، مارلبورو او د لویدیځ ساحل

☐ کانتربوری

☐سویلي

## موږ له تاسو د څه شی پوهیدل غواړو؟

له خلکو سره د ښکیلیدو هدف دا دی ترڅو ځان پوه کړو چې تاسو ته څه مهم دي او تاسو د یوه اوتیروا نیوزیلند لپاره چې په ټولنیزه توګه ډیر جذاب وي، څه غواړي. ستاسو نظریات به له حکومت سره د دې په پوهیدو کې مرسته وکړي چې موږ باید چیرته ډیر تمرکز وکړو او د کومو کړنو تر سره کولو ته اړتیا لرو.

موږ په څلورو مهمو برخو کې پوښتنې مطرح کوو:

1. ستاسو په نظر ټولنیز پیوستون په څه معنی ده او که چیرې په ټولنیز پیوستون کې پرمختګ کیږي، نو اوتیروا نیوزیلند به څنګه ښکاري؟
2. موږ څنګه پوه شو چې د پرمختګ په حال کې یو؟ بریا په څه معنی ده؟

موږ هغه خیړنه بیا له سترګو تیره کړه چې کوم کارونه ټولنیز پیوستون ټینګوي– د ټولنیز پیوستون رامنځته کیدو په باب دا ارزونه په شپږو برخو کې خلاصه شوه. موږ لیواله یو چې پوه شو، ایا دغه شپږ برخې ستاسو په نظر سمې دي او ایا نور څه هم شته چې باید کار پرې وشي.

حکومت باید د یوی ښې ټولنیز پیوستون د رامنځته کولو لپاره کوم ګامونه پورته کړي، او په دی کار کې څوک ښکیلیدی شي؟

# 1. دټولنیزپیوستونپایلي – ستاسولپارهڅهمهمدي؟

حکومت توافق کړی چې د شاهي څېړنو کمیسیون په راپور کې په ګوته شوې تعریف به کاروي. دا تعریف د پروفیسر پاول سپونلي، روبین پیس، اندریو بوچر او دامیان اونیل لخوا رامنځته شوي. دوی یوه سره تړلې ټولنه داسې یوه ټولنه بولي چې هرڅوک په کې لاندې احساسات ولري:

- **ځان د ټولنې برخه بلل** – داسې یو احساس چې ځان د ټولنې برخه وبولي، په نورو باور وکړي او قانون او بشري حقونو ته درناوی وکړي
- **ورګډېدل** – د فرصتونو او کارونو، عوایدو، زده کړو، روغتیا او د استوګنې ځای کې له یو شان حقه برخمنیدل
- **برخه اخیستل** – په ټولنه او ټولنیزو فعالیتونو او سیاسي و مدني فعالیتونو کې ښکیلیدل
- **درک کول** – تنوع ته ارزښت ورکول او توپیرونو ته درناوی کول
- **مشروعیت** – پر عامه ادارو باور کول.

د مائوری په اند، ټولنیزه پیوستون د هویت یو ټولنیز حس دی چې د ټولې ټولنې ټولنې لخوا یې درناوی کیږي. ماناکیتانګا د درناوي او ریښتونولی او نورو ته د پام کولو لړۍ ده چې ټولنیز پیوستون ته د کار کولو په زړه کې ځای لري.

اوتیروا نیوزیلند د ډیری خلکو د یوهي برخلاف ډیر متنوع دی او د وخت په تیریدو سره لا پسې متنوع کیږي. په دې تنوع کې د عمر، نژاد، کلتور، مذهب، د وګړیتوب په باب مالومات، ارزښتونو او باورونو، ناتوانیو/معلولیت، د کورنۍ جوړښت، جنسي هویت، اصطلاح ګاني او جنسي تمایلاتو تنوع شامله ده.

ټولنیزه پیوستون د یو ډولتوب په معنی نه دی. دا پدیده په هغه ځای کې موجوده وي، چیرته چې خلک ځان د ټولنې برخه احساسوي، کورنۍ او شخصي اړیکې مضبوطې وې، توپیرونو ته احترام وشي، فرصتونو ته یوشان لاسرسی موجود وي، او خلک ځان خوندي احساس کړي و د نورو لخوا یې ملاتړ وشي.

ټولنیزه پیوستون یو ایدال وضعیت دی، نه یو هدف چې ترلاسه دې شي او اړتیا لري چې په دوامداره توګه پیاوړې/ وروزل شي او وغوړیږي. موږ داسې ټولنې لیدلي چې یوځای سره پرمخ زې ترڅو د یو بل ملاتړ وکړي او یو بل ته پاملرنه وکړي، پر کرایست چرچ جومات له برید او دغه راز په دې وروستیو کې د کووید-۱۹ وبا د ناروغۍ وروسته کله چې هیواد د ګډو ننګونو په وړاندې سره یو موټی شو.

## د ټولنيز پيوستون په اړه خپل نظر راته ووايئ

- د ټولنيز پيوستون په رامنځته کولو کې څه شی مهم دي؟ ايا د ټولنيز پيوستون تعريف ستاسو لپاره پيچلی دی؟
- که داسي دی، نو راته وايئ چې هره پايله (رابطه، ادغام، ګډون، پوهيدل، مشروعيت) تاسو ته څه معنی لري او که دا پايلې ترلاسه کيږي، نو اوتيروا نيوزيلند تاسو ته په څه معنی دی.
- که دا نتيجه نه ترلاسه کيږي، نو ووايئ چې ولې نشي ترلاسه کيدای او په تعريف کې څه تغير راولي.

## 2. موږ څنګه پوه شو چې د پرمختګ په حال کې یو؟

شاهي کمیسیون وړاندیز وکړ چې حکومت دې خپل اقدامات او د ټولنیز پیوستون شاخصونه پراخ کړي. دغه کمیسیون راپور ورکړ چې په یوه چټک متنوع هیواد کې د ټولنیز پیوستون د جوړولو لپاره، عامه ادارې اړتیا لري چې ربښتوني ډیټا راټوله کړي، ترڅو ځان په دې پوه کړي چې ایا د دوی پالیسي ګانې او پروګرامونه هغه ډول چې دوی یې نیت درلود کار ورکوي که نه.

موږ غواړو پوه شو چې ټولنې کوم تغیرات غواړي، څو موږ غور پرې وکړو، او دا چې حکومت ته څه کول پکار دي.

### موږ ته د هغو تغیراتو په اړه خپل نظر ووایاست چې د پرمختګ په صورت کې به ورسره مخ کیږو

- که چیرې نیوزیلند له ټولنیز اړخه په یوه ارتباطي ټولنه بدلیږي، نو اتیروا نیوزیلند کې به کوم تغیرات وینو؟
- بریا به په څه معنی وي؟

موږ ته د هغو تغیراتو په اړه خپل نظر وواياست چې د پرمختګ په صورت کې به ورسره مخ کیږو

## 3.دټولنيزپيوستونجوړولوپهاړهشواهدڅهوايئ؟

حکومت هغه څېړنې مرور کړې کوم چې د ټولنيز پيوستون د جوړولو په برخه کې کار ورکوي. په دغو څېړنو کې موږ هغه شپږ شواهد په ګوته کړي چې له موږ سره په اوتيروا نيوزيلند کې د ټولنيز پيوستون په لا ټينګولو کې مرسته کوي. د دغو شواهد غورچاڼ په لاندې ډول دي:

1. د عمومي ارزښتونو او ټول ګډونه ټولنيزو نورمونو وده.
2. د خلکو ترمنځ مثبتې راشه درشې ته د زمينې برابرول او دې راشه درشې ته د هغوی هڅول.
3. د خلکو ترمنځ روابطو ته د زيان، نفرت، تعصب او نورو مضرو کړنو مخنيوی.
4. په ټولنه کې د ګډون په باب له خلکو ملاتړ او هغوی ته د اړتيا وړ پوهې او مهارتونو ورکړه.
5. له خلکو ملاتړ کول ترڅو هغوی خپل غږ اوچت کړي او دا احساس په کې پيدا شي چې د دوی غږ اوريدل کيږي.
6. د نا برابری راکمول او خلکو ته د ملاتړ او سرچينو د برابرولو له لارې د فرصتونو زياتول.

د ټولنيز پيوستون جوړولو د پروسې په باب د نيوزيلند او نړيوالو شواهدو په اړه دټولنيزپرمختګوزارتمرور شوي شواهد د MSD ويب پانه کې موندل کيدی شي.
[په ټولنيز پيوستون کې د MSD ګرندی بياکتنه ولولئ.]

## په دې اړه خپل نظر راته ووایاست چې څه باید وشي ترڅو ټولنيز پيوستون وده وکړي

- ايا دا شپږ لارې تاسو ته سمې ښکاري؟
- له دغو شپږو لارو کوم يوه تاسو ته ډيره مهمه ده؟ ولې؟
- د ټولنيز پيوستون د جوړولو لپاره بل څه مهم دي؟

په دې اړه خپل نظر راته ووایاست چې څه باید وشي ترڅو ټولنیز پیوستون وده وکړي

## 4. د تولنیز پیوستون د ټینګولو لپاره ګام پورته کول

د مارچ ۱۵ له ترهګریز برید وروسته، د پیښې د قربانیانو، د هغو د کورنیو او د مسلمانانو ټولنې اړینو اړتیاوو ته رسیدنه، امنیتي اندیښنې او په راتلونکې کې د ورته احتمالي پیښود د راکمولو په موخه د وسلې درلودو په قانون کې فوري تعدیلات هغه موارد وو چې حکومت تمرکز پرې وکړ.

کله چې اړین تدابیر ونیول شول. د بیلابیلو ټولنو له لوري له حکومت سره اړیکه ټینګه شوه او ترې وغوښتل شول چې د ټولنیز پیوستون د پیاوړي کولو په اړه دې خپل رول وارزوي. لومړۍ وزیرې د صدراعظم له دفتر او کابینې وغوښتل چې دټولنیزپرمختګوزارتاو ځینو نورو ادارو سره دې د ټولنیز پیوستون په باب د شواهدو په مرور کار پیل کړي، هغه کارونه دې په ګوته کړي چې په حکومت کې روان دي، او د ټولنیز پیوستون د پیاوړتیا په موخه دې د ممکنه مداخلې په اړه لومړنی لارښوني برابرې کړئ.

د ۲۰۱۹ کال په سپتمبر میاشت کې کابینه د ټولنیز ګډون د ودې په برخه کې پر شواهدو ولاړو ځینې اقداماتو سره سلا شوه، چې په لاندې ډول دي:

- زموږ په ټولنه کې دې تبعیض راکم شي
- د ټولنیز پیوستون په برخه کې د حکومت او عامه خدمتونو د رهبرۍ برخې راڅرګندیدل
- د ټولنیزو فعالیتونو ملاتړ – ترڅو ټول شموله ملي هویت وده وکړي
- پر برابرۍ او ټولنیز پیوستون د تمرکز پیاوړي کول زموږ د کاري پروګرامونو په سر کې راځي.

کابینې د ۲۰۲۰ کال په جون میاشت کې پر لا زیاتو اقداماتو هوکړه وکړه. د ټولنیز پیوستون د پیاوړي کیدو په باب چې پر کومو اضافي اقداماتو کابینې هوکړه وکړه، بیلګې یې په لاندې ډول دي:

- د عامه سکتور د رهبرۍ د رول په برخه کې د تنوع پر ډیرولو د کار دوام، دغه راز د هغو کارکونکو متنوع کول چې په لومړي قدم او بستونو کې کار کوي.
- له هغو ټولنیزو نوښتونو ملاتړ چې ملي هویت ته وده ورکوي. مثال په توګه هوواراهۍ هو (Huarahi Hou)؛ پر ژمنه ولاړو ګڼ کلتوره ټولنو تکلاره.
- په ښونځیو کې د وړو زده کونکو د زورولو مخنیوی پروګرامونو پراخول
- د لوبو پرګرامونو ته د لاسرسي له لارې له زلمیانو ملاتړ کول، ترڅو هغوی خپل ټولنیزې او احساساتي وړتیاوو ته وده ورکړي او دغه راز ښونکو ته هم باید اړین وسایل برابر شي. په ځان کې نظم راوستل، خواخوږي او د مهارتونو په ګډون، د ټولنیزو او احساساتي وړتیاوو زده کول له زلمیانو سره مرسته کوي ترڅو هغه نور ماشومان چې د دوی په شان نه دي، ښه درک کړي، له هغوی سره راشه درشه وکړي. دغه راز یو چلند د یوی لا پیاوړي ټولنیز پیوستون له رامنځته کولو سره مرسته کوي.
- د "نژادي پرستی ته موقع مه ورکوی" کمپاین پراخول
- د ټولنیز مشارکت او کورني ملاتړ په ګډون، له کډوالو د ملاتړ ګڅورو غښتلي کول او پراخول
- د دې پلټنه دې وشي چې د عنعنوي لوبو، رضاکارانه فعالیتونو، ښونځیو، په نوښتګره او مذهبي برخو کې کوم کارونه کیدای شي ترڅو د بیلابیلو ډلو ترمنځ مثبتي راشه درشه ته لار پرانیستل شي.
- له ښونځیو او ټولنو سره په ګډه ښونځیو او کورا (kura) کې د ښوونیز نصاب د یوې برخې په توګه د اوتیروا نیوزیلیند د تاریخ تدریسولو ته تیاری نیول

- د انصاف او عدالت په اوسنیو پروګرامونو کې د ټولنیز پیوستون ټینګیدو ته د زمیني برابرول – لکه د هوسایني رامنځته کول، عمومي استوګنه، اورانګا تماریکي (Oranga Tamariki)، د روغتیایي او معلولیت سیسټم بیا ارزونه، او د ښوونیز سیسټم کارکړني پروګرام.

په دغه لینک کې د اضافي کار هغه بشپړ غورچاڼ موجود دی چې کابینې د ۲۰۱۹ کال په سپټمبر او ۲۰۲۰ په جون میاشت کې پرې توافق وکړ. لطفاً دا په یاد ولرئ چې په دغه غورچاڼ کې ټول هغه کارونه (لکه د پراخ بنسټه اوتیروا ټولنیز کار) نه دي رانغښتي، کوم چې د حکومت او ټولنې د ټولنیز پیوستون د ټینګیدو په برخه کې تر سره کوي.

موږ غواړو هغه کار بشپړ کړو چې لا د مخه تر لاس لاندې دی. چیرې چې امکان ولري موږ به دا هڅه وکړو چې د جوتو شواهدو په اساس د ټولنیز پیوستون په برخه کې یې موثریت ثابت شوی وي. موږ لومړی د حکومت پر کړنو تمرکز کوو، په شمول د دې چې حکومت په ټولنو کې د ټولنیز پیوستون د ټینګولو په برخه کې د ټولنو، سوداګریو او سیمه ییزې حکومتولۍ د رهبرۍ د ملاتړ او توانمند کیدو په برخه کې څه کولی شي.

## موږ ته په دې اړه خپل نظر ووایاست چې حکومت باید خپلې هڅې پر کوم ځای متمرکزې کړي

- د هغو اقداماتو بنې ته په کتو چې اوس ترسره کیږي، کوم یو یې ستاسو په نظر د پرمختګ لپاره مهم دی؟
- ایا بل کوم داسې کار شته چې د ټولنیز پیوستون د ټینګیدو لپاره دې مهم وي، خو ستاسو په نظر حکومت دې تر اوسه نه وي کړي؟
- په دغو کړنو کې څوک شامل دي؟ (د مثال په توګه، حکومت، سیمه ییز حکومت، نا دولتي سازمانونه، ایوی/هاپو، خصوصي سکتور، ټولنې)

موږ ته په دې اړه خپل نظر ووایاست چې حکومت باید خپلې هڅې پر کوم ځای متمرکزې کړي